# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد     بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم     از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com     afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|

پیشگام
۲۸ اپریل ۲۰۲۴

## توماج صالحی د آخوندیزم په ضد فریاد،
## د دې ازادي غوښتونکي غږ ملاتړ وکړو!

ښکاره ده چې د اعتراض موسیقي او ترانه هغه خطرناکه وسله ده، چې مستبدین، زورواکي او ستمګران ترې سخت ډارېږي. اعتراضي موسیقي، پارونکي تراني او د پرګنو د هیلو او آرزوګانو فریاد، غلیمان ویروي. د اعتراض موسیقي، د ولس موسیقي ده. د اعتراض او پاروني ترانه، د ولس غږ او آواز دی. د همدې لپاره دا اعتراض، دا موسیقي، دا ترانه، دا غږ او آواز ولسونه متحدوي، پاروي، یون او حرکت ته یې رابلي او د مبارزې ډګر ورباندې بهاندوي.

که پرون په لاتیني امریکا کې ویکتور خارا ولسونه په خپل غږ مبارزې ته هڅول او دیکتاتور پینوشې یې غږ وواژه، نن زموږ په ګاونډ ایران کې خامنه ای دیکتاتور غواړي د توماج صالحي آواز ووژني. توماج صالحي، که د ایراني ولس آواز دی، زموږ ستمځپلي افغانان هم له یاده نباسي او درد او رېړه یې فریادوي.

توماج صالحي د هنر یوه وسله وال دی، یو چریک او یو پوځي دی. توري، کلیمې، قافیې، ردیفونه، آواز، موسیقي، آهنګ، ترانه د هغه وسله ده. هغه دا وسله په پرتمین ډول کاروي، پر دې وسلې مین دی او حرمت او ویاړ یې ساتي. نو د همدې لپاره د اخوندي رژیم د زندانونو د تورو تمبو شاته د اعدام شېبې شمېري.

صالحي، یو اتل دی. د ایران د ولس اتل دی او زموږ د ولس یو خواخوږی. هغه په داسې حال کې زموږ د ولس د آزادی، برابری او ویاړ هیله کوي، چې له بده مرغه ډېری ایرانیان په فاشیستي اند او لیددود سره افغانانو ته په سپکه سترګه ګوري او سپکاوی یې کوي.

د ولس آواز برید نه پېژني، پوله او هېواد نه پېژني، شعار یې وروړلي او انسانیت دی. که صالحي په ایران کې د اسلامي جمهوریت آخوندي رژیم په وړاندې د خپل ولس او وګړو له شرافت ملاتړ کوي او د دې ملاتړ او ننګې لپاره په خپلو ترانو کې د خپل اعدامېدلو وړاند وینه کوي، د افغانستان پر خلکو هم غږ کوي چې سپکاوی مه منئ، آزاد مړه شئ. «نړی» ته په تمه مه اوسی، «نړی» ستاسې په وړاندې ودرېدلی، تاسې د آزادی په لاره کې یوازې یاست، چپ مه پاتې کېږئ، مه ډارېږئ، وجنګېږئ او آزاد مړه شئ. که توماج له یوې خوا د خپل فاشیست حکومت په وړاندې غږ پورته کوي، چې جابر حاکم به محاکمه کړو او د خپلو هغو هېوادوالو په وینو، چې د ایران آخوندی او ملایي رژیم

تويی کړي، قسم خوري چي دا ويني به بی قصاصه او بی انتقامه پاتي نشي او د ولس له غچ به هيڅ قاتل ونتښتېدلی شي، همدا ډول د افغانستان وګړو ته پيام ورکوي، چي طالب د ايران د آخوندي رژيم مزدورګی دی او د خلاصون لاره په اتحاد او پيوستون کي ده. هغه د ايران زيارکښه او ستمځپلي وګړي د افغانستان د ستمځپلو انسانانو ورونه ګڼي او په دې ډول د يو ګډ او مشترک درد آواز پورته کوي.

د توماج صالحي روښانپاله ليد، روښانګرانه غږ او پارونکي او متحدونکي تراني او د انسانيت په شعار سمبالي سندرې، هغه څه دي چي د ايران آخوندان يي په ډار اچولي او هغه يي د همدې لپاره په اعدام محکوم کړی دی. توماج صالحي له اعدامېدلو څخه کوم ډار نلري، وړاندې له دې هغه په خپلي تراني «طناب دار» کي په روښانه پيام ورکړی دی: که غږ می غلی هم کړی بی فايدې دی، زه د يو باشرفه زمري په شان مرم، نه تسليمېږم، د دار طناب خکلوم او په وياړ سره د ځندې طناب په غېږ کي نيسم.

د دې آزادي غوښتونکي مبارز سندرغاړي د اعدامولو حکم صادرول، د ايران د آخوندي رژيم د فاشيستي کړنو تداوم او د يو توتاليتر مذهبي دولت منځپانګه او ماهيت لا په ښه توګه بربنډوي. فاشيستان کولای شي صالحي اعدام کړي، خو څنګه چي هغه په خپله وايي، چي ميليونونه بذرونه پاشل شوي دي، چي هر يو د خپل رول لوبولو په انتظار دي، نو بی له شکه سبا به دا ميليونه بذرونه په هغه توفان بدلېږي، چي د ولس د ښېرازی او هوسايني او خلاصون لپاره د آخونديزم مانې به ړنګوي.

د صالحي تر څنګ ودرېدل او د هغه د ژوند لپاره غږ پورته کول د انسانيت تر څنګ ودرېدل او د انسانيت لپاره غږ پورته کول دي.